25 December 2025

# د مرګ بېشمېره اسباب



(For Islamic Brothers) هفته وار د سنتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے د سنتو ډک بیان

پهٔ 25 دسمبر، کال 2025ء (4 رجب شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د مرګ بیشمیره اسباب

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د اِنسان، مرګ او د اُمید مثال
- ... د شَدَّاد نصیحت
- ... د بادشاهانو کوپړی
- ... نیو ائیر نائټ د عبرت شپه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** اَوْلَی النَّاسِ بِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اَکْثَرُهُمْ عَلَیَّ صَلَاةً یعنې د قیامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زیات نزدې ما ته هغه کَس وي څوک چې د ټولو نه زیات په ما باندې درود شریف لولي. (1)

نبی کے عاشقوں کی عید ہوگی عید محشر میں
کوئی قدموں میں ہو گا کوئی سینے سے لگا ہو گا
ترے دامانِ رحمت کی کھلے گی حشر میں وُسعت
وہ آ آ کر چھپے گا جو گنہگار اور بُرا ہو گا (2)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. (3)

---

1 ... ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی فضل الصلاۃ...الخ، صفحه:144، حدیث:484۔

2 ... وسائل بخشش، صفحه:183۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښینم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## چا چې ته وخندولې هم هغهٔ وژړولې

**پهٔ روایتونو کښې دي:** یو ځل ملک المَوت (یعني د مرګ فرښته) حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام چرته ناست وو، پهٔ ناسته ناسته مُسکے شو، بیا لږ ساعت پس پهٔ ژړا شو.

رَبِّ کریم کوم چې د ټولو پټو خبرو نه خبر دے، اللّٰه پاک وفرمائیل: اے ملک المَوته...!! ته ولې مُسکے شوې؟ بیا ولې پهٔ ژړا شوې؟ عرض یې اوکړو: یا اللّٰه پاکه! یو ځل تا ما ته حکم اوکړو، نو چې زهٔ د یوې زنانه رُوح قبض کولو دپاره لاړم، ما وکتل چې هغه لرې پهٔ صحرا کښې وه، د هغې سره د هغې د پئیو څښلو والا بچے هم وو، د هغوئي نه علاوه د لرې لرې پورې څوک موجود نهٔ وو. د هٰغه زنانه د رُوح قبض کولو پهٔ وخت زما پهٔ ماشوم باندې رحم راغلو او زهٔ پهٔ ژړا شوم، بهر حال! حکم وو، رُوح خو ضرور قبض کول وو، نو ما هٰغه ماشوم هم هلته پریښودو او د مور روُح مې قبض کړو. **نن ناڅاپه د هٰغه ماشوم پهٔ باره کښې پهٔ سوچ کولو ما له ژړا راغله.**

عرض یې اوکړو: اے کریم مالکه! دا وه زما د ژړا وجه. مُسکے ځکه شوم چې یو ځل زهٔ د یو کَس د رُوح قبض کولو د پاره لاړم، هغه ډیر بوډا وو، ملا یې راټیټه شوې وه، پهٔ کوښتې [یعني اَمسا] باندې ګرځیدو، کله چې زهٔ د رُوح قبض کولو د پاره ورسیدم ،

3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

هُغه وخت هغه د یو چمیار پهٔ خوا کښې وو، د هغهٔ پیزار شلیدلے وو، هغهٔ چمیار ته وئیل: زما د پیزار تَلے داسې مضبوط جوړ کړه چې کم از کم یو کال خو تیر کړي.

پهٔ دې لیدو زهٔ مُسکے شوم چې وګوره! څومره بوډا شوے دے، زهٔ اوس د دهٔ رُوح قبض کوونکے یم او دا د ټول کال د ژوندي پاتې کیدو پهٔ طمع ناست دے، **نن د هُغه بوډا پهٔ باره کښې پهٔ سوچ کولو زهٔ بیا مُسکے شوم.**

**الله** پاک وفرمائیل: اے ملک المَوته...!! اِنَّ الَّذِیۡ اَبۡکَاکَ هُوَالَّذِیۡ اَضۡحَکَکَ بے شکه چا چې ته ژړولےيې، داهم هغه دے چاچې تهٔ خندولے يې.

یعنې اے ملک المَوته! هُغه ماشوم پهٔ کوم باندې چې تا له رحم درغلے وو او پهٔ ژړا شوے وې، دا هم هغه وو کوم چې لوئي شو، ډیر عمر یې وموندو، بوډا والي ته ورسیدو، هم دا هُغه بوډا وو د کوم د اوږد اُمید پهٔ لیدو چې تهٔ مُسکے شوے وې.(1)

| | |
|---|---|
| پہلوانوں کو پچھاڑا موت نے | کھیل کتنوں کا بِگاڑا موت نے |
| ہاتھی جیسے بھی نہ چھوڑے موت نے | کیسے کیسے گھر اُجاڑے موت نے |
| قبر میں میّت اُترنی ہے ضرور | جیسی کرنی، ویسی بھرنی ہے ضرور |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک د قُدرت هم څومره بنکلے شان دے...!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې واقعه باندې غور اوکړئ! د دې نه د زدکړې د پاره مونږ ته دوه خبرې میلاوېږي:

(1): د ټولو نه وړومبے خو د **الله** پاک قُدرت ته وګورئ چې یو پې خښونکے ماشوم

1...عجائب بنی اسرائیل، صفحہ:16۔

دے، يوه د هغۀ مور ده، پۀ صحرا کښې دي، د لرې لرې پورې څوک موجود نشته. پۀ داسې حالت کښې يـې مور هم مړۀ شوه. اوس د سوچ خبره ده چې ماشوم به چا اوچت کړے وي؟ د صحرا د ځناورو نه به چا بچ کړے وي؟ پالنه به يـې چا کړې وي...؟

زمونږ پۀ کورونو کښې ماشومان موجود دي ❀ پالنه يـې هم کيږي ❀ څۀ ظاهري ذريعې موجودې دي ❀ د روزنې پالنې د پاره يـې مور شته ❀ د ګټې وټې د پاره يـې والِد صاحب موجود دے، د هُغه ماشوم سره پۀ صحرا کښې څوک وو؟ څوک هم نۀ وو. بيا هم هُغه ماشوم بچ پاتې شو او ډير کلونه ژوند يـې تير کړو او بوډا والي ته هم ورسيدو.

**معلومه شوه چې د اسبابو محتاج مونږ يو، هُغه کريم مالِک قادرِ مُطلق دے، پۀ ظاهره چې چرته ټول اسباب ختم شي، د هغۀ قُدرت هلته هم اسباب پيدا کړي.**

| | |
|---|---|
| وہ ہے منزہ شرکت سے | پاک سکون و حرکت سے |
| کام ہیں اس کے حکمت سے | کرتا ہے سب قدرت سے |

لَااِلٰہَ اِلَّا اللہ! آمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ(1)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## ډير عمر ته رسيدل هم د قدرت نخښنه ده

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** زمونږ چې کوم دا 5، 6 فتې وجود دے، پۀ دې باندې هم د **الله** پاک قُدرت کار کوي، زمونږ پۀ دې کښې هم څه اِختيار نشته. **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

---

1...سامانِ بخشش، صفحہ:32۔

وَ نُقِرُّ فِی الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْۤا اَشُدَّكُمْ ۚ وَ مِنْكُمْ مَّنْ یُّتَوَفّٰى وَ مِنْكُمْ مَّنْ یُّرَدُّ اِلٰۤى اَرْذَلِ الْعُمُرِ (پاره:17، سورۂ حج:5)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږ د مئیندو په خِیټو کښې چې چا لره غواړو د یوې مودې پورې ایسار ساتو بیا تاسو د ماشوم په شکل کښې را اوباسو بیا (عمر درکوو) چې تاسو خپلې ځوانۍ ته ورسیږئ او په تاسو کښې ځوک مخکښې مړ شي او ځوک د ټولو نه بیکاره عمر طرف ته وګرځولے شي.

❀ بچے به د مور په خِیټه کښې د څومره مودې پورې وي، په دې باندې نۀ د مور اِختیار شته او نۀ د بچي ❀ ماشوم چې کله پیدا شو، بیا به دا هم په ماشومتوب کښې وفات کیږي که د ځوانۍ عمر ته به رسیږي؟ په دې باندې هم زمونږ څه اِختیار نشته ❀ ځلمے شو، بیا به بوډا والے هم وینې که نه، په دې باندې هم مونږ اِختیار نۀ لرو، څومره خلق دي کوم چې هم په کچه ځوانۍ کښې مړۀ شي او څومره داسې خلق دي کوم چې بوډا والي ته ورسیږي، خواران دومره ډیر ضعیفه او کمزوري شي چې **مرګ غواړي** خو مرګ ورله نۀ راځي.

دا ټولې د هُغه کریم مالِک فیصلې دي، هغه چې څوک غواړي، څنګه یې غواړي، هم هُغه شان ورعطا کوي. د دې نه مونږ ته څۀ سبق میلاؤیږي...؟ هم دا چې

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خُدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آ رہا ہے وہی خدا ہے
سفید اُس کا سیاہ اُس کا، نفس نفس ہے گواہ اُس کا
جو شعلہء جاں جلا رہا ہے، بُجھا رہا ہے، وہی خدا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تيارے د سلو کالو ده

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام پۀ واقعه کښې چې د کوم بوډا ذِکر وشو، د هغۀ پۀ انداز کښې هم زمونږ د پاره سبق دے. هُغه ګس بوډا وو، چميار ته يې وئيل: **پيزار ته داسې مضبوط تلے ولګوه چې کم از کم يو کال خو تير کړي.** دلته ورسره پۀ خوا کښې حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام ولاړ وو او مُسکے کيدلو چې وګوره...!! دا د يو کال پۀ اميد باندې ناست دے او د دۀ د مرګ وخت راغلے دے.

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | ساماں سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کم او زيات زمونږ حال هم داسې دے ❀ مونږ ته نۀ ده معلومه چې مرګ به کله راځي؟ ❀ معلومه نۀ ده چې بله ساه به هم واخلو که نه ❀ د سبا نمر ليدل به مو هم نصيب شي او که نه؟ مونږ ته معلومه نۀ ده خو زمونږه خواهشات، ارمانونو او اوږدو اُميدونو ته چې وګورې نو د راتلونکو ډيرو کلونو منصوبه مو جوړه کړې وي ❀ د بوډا والي ښۀ تيرولو د پاره مال هم د اوس نه جمع کوو ❀ بينک بيلنس زياتولے شي ❀ د راتلونکو کلونو د پاره څيزونه ذخيره کولے شي ❀ که يو معمولي شان څيز هم د بازار نه اخستل وي نو پوښتنه کوي: **آيا د دې ورنټي شته؟**

آؤ جي! د دې څيزونو خو ورنټي شته خو افسوس چې زمونږ څه ورنټي نشته. نن چې مونږ کوم مضبوط، پائيداره او د ډيرو کلونو پورې چليدونکي څيزونه اخلو، عين ممکن ده چې دا هم دلته پاتې شي او مونږ مړۀ شو.

## اِنسان، مرګ او اُميد

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مَسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، فرمائي: يوه ورځ د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څلور ګوټه ډبے جوړ کړو، پۀ هغې کښې يې دننه يوه کرښه راښکله، بيا يې د هُغه کرښې دواړو اړخونو ته وړې

ورېږ کرښې راښکلې، بیا یـې د هُغه ډبې نه بهر یوه کرښه راښکله، بیا یـې وفرمائیل: دا (یعنې د ډبې دننه یوه کرښه) اِنسان دے او دا (د دۀ نه ګیر چاپیره څلور ګوټه ډبے) دا مرګ دے، کوم چې اِنسان راګیر کړے دے، دا ورېږ ورېږ کرښې، مختلف افتونه دي کوم چې پۀ اِنسان پسې انبنتي دي، اِنسان د یو نه بچ کیږي نو دویم ټَک ورکوي او هُغه (یعنې د ډبې نه د بهر والا کرښه) د اِنسان اُمید دے. (1)

آتے ہوئے اذاں ہوئی،جاتے ہوئے نماز | اتنے قلیل وقت میں آئے اور چل دیئے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې دې عبرتناک حدیثِ پاک زمونږ د حالاتو پوره عکاسي کړې ده. واقعي چې مرګ مونږ د څلورو وارو اړخونو نه راګیر کړې یو ❀ مونږ چې خپل ګیر چاپیره د مرګ پۀ اسبابو باندې غور اوکړو ❀ بجلي د مرګ سبب دے ❀ زمونږه ګاډے د مرګ سبب دے ❀ بیماري د مرګ سبب دے ❀ زمونږ خوراک زمونږ خُلې ته د داخلیدو سره هم زهر جوړیدے شي، ځکه دا هم د مرګ سبب دے، داسې غور اوکړئ چې مرګ مونږ د څلورو وارو اړخونو نه راګیر کړې یو او مونږ پۀ مختلفو مسئلو کښې راګیر یو ❀ کله بیماري راځي ❀ کله تنګدستي راځي ❀ کله د ماشومانو فِکر ❀ کله د خپل ځان فِکر ❀ کله د خوراک فِکر ❀ کله د کټې وتې فِکر ❀ مونږ پۀ زرګونو قِسمه فِکرونو، مسئلو او افتونو کښې راګیر یو، چې زمونږه اُمیدونه د ډیرو کلونو دي، مونږ ته دا نۀ ده معلومه چې د سبا نمر هم لیدل دي که نه خو منصوبه زمونږ سره د 100 کالو ده، خوبونه مو ډیر اوږدۀ اوږدۀ لیدلي دي. آه! پته نۀ لګي چې دا خوبونه به پوره هم شي او که نه، که چرې پوره هم شي، نو بیا خو هم مرګ بهر حال ضرور راتلونکے دے، قبر ته خو ضرور کوزیدل دي، د قیامت پۀ ورځ د **اللّٰه** پاک پۀ بارګاه

---

1... بخاری، کتاب الرقاق، باب فی الامل وطوله، صفحه:1581، حدیث:6417 خلاصةً۔

کښېږي پېش کېدل خو ضرور دي...!! خو افسوس چې د قبر، د قيامت د پاره زمونږ سره هډو څۀ منصوبه نشته.

## د دُنيا عجيبه مثال

يو بل حديثِ پاک واورئ! او وګورئ چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه څنګه پوهه کړي يو چې څنګه مونږ پۀ خبره باندې پوهه شو او پۀ دې باندې عمل کوونکي جوړ شو، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَثَلُ هَذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ اَوَّلِهِ اِلٰى آخِرِهٖ

د دې دُنيا مثال د يوې کپړې پۀ شان دے او کپړه هم هٰغه کومه چې د سر نه تر اخره پورې شليدلې وي .

فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهٖ

بس پۀ اخره کښې د يو تار نه انښتې ده.

فَيُوشِكُ ذَلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَنْقَطِعَ

بس نزدې ده چې دا تار هم وشليږي. (1)

چا شاعر پۀ دې ډېره ښکلې رڼا اچولې ده او وئيلي يـې دي:

اِک یہ جہاں، اِک وہ جہاں، دونوں جہاں کے درمیاں
ہے فاصلہ اک سانس کا، گر آ گئی تو یہ جہاں، گر رُک گئی تو وہ جہاں

دا صرف بس هم يو تار خو دے، وړوکے شان تار، کمزورے شان تار...!! يو څو منټه چې آکسيجن ميلاؤ نۀ شي نو ساه وډريدل شروع شي، وډريږي، ساه ډوبې راشي، بس

---

1... مسوسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:332، حدیث:122۔

چې دا تار وشلیږي نو بنده د دُنیا نه رخصت شي. د دُنیا هم دا حقیقت دے.

## د ډاکټر په مخکښې ګَس مړ شو

یوه واقعه په یو کتاب کښې لیکلے شوې وه، یو ګس وو، د خپل ښار د ټولو نه پوهه ډاکټر (*Specialist Doctor*) له لاړو، خپله معائینه یې اوکړه. ډاکټر صاحب واقعي چې پوهه وو، هغهٔ په صحیح طریقه معائینه اوکړه، د وینې ټیسټونه یې اوکړل، رپورټونه راغلل، هٔغه ګس د خپلو رپورټونو اخستو د پاره د ډاکټر صاحب خوا له لاړو، ډاکټر صاحب ډیر پهٔخوشحالۍ او تسلۍ سره رپورټونه هٔغه ګس له ورکړه او اوئې وئیل: ستا ټول رپورټونه ټیک دي، تا ته في الحال هیڅ مسئله نشته. هٔغه ګس هٔغه رپورټونه واخستل، کور ته د تللو د پاره لا روانیدلو چې هم هلته راپریوتو. ډاکټر چې وکتو نو رُوح یې د تن نه جُدا شوے وو.

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار
تُو اچانک موت کا ہو گا شکار

موت آکر ہی رہے گی یاد رکھ!
جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ!

گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے
قبر میں تنہا قیامت تک رہے[1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## بوډا والے وژل کوي

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د اِبنِ آدم مثال داسې دے چې د دهٔ سره خواوشا ته 99 مرګونه ګرځي، که د دې نه بچ شي نو بوډا والي ته ورسیږي د دې پورې چې مړ شي.[2]

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:711۔

2...ترمذی، کتاب:القدر، صفحه:519، حدیث:2150۔

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعني د اِنسان د پاره د مرګ اسباب بے شميره دي، هر وخت مرګ پۀ سر ولاړ دے خو که د **الله** پاک پۀ حکم د دې ټولو نه بچ شو نو اخر بوډا والے خو به ضرور راځي د کوم نه پس چې مرګ يقيني (***Confirm***) دے. (1)

تجھے پہلے بچپن نے برسوں کھلایا | جوانی نے پھر تجھ کو مجنوں بنایا
بڑھاپے نے پھر آ کے کیا کیا ستایا | اَجل تیرا کر دے گی بالکل صفایا
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## مرګ د ګومر خلقو خونې ورانې کړې

**الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اَلَمۡ یَرَوۡا کَمۡ اَہۡلَکۡنَا مِنۡ قَبۡلِہِمۡ مِّنۡ قَرۡنٍ مَّکَّنّٰہُمۡ فِی الۡاَرۡضِ مَا لَمۡ نُمَکِّنۡ لَّکُمۡ وَ اَرۡسَلۡنَا السَّمَآءَ عَلَیۡہِمۡ مِّدۡرَارًا ۪ وَّ جَعَلۡنَا الۡاَنۡہٰرَ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِہِمۡ فَاَہۡلَکۡنٰہُمۡ بِذُنُوۡبِہِمۡ وَ اَنۡشَاۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِہِمۡ قَرۡنًا اٰخَرِیۡنَ ﴿۶﴾

(پارہ:7، سورۂ اَنْعام:6)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: آيا دوئي اونۀ ليدل چې مونږه د دوئي نه مخکښې څومره قومونه هلاک کړل، هغوئي ته مونږه پۀ زمکه کښې هغه قوت او طاقت ورکړے وو کوم مو چې تاسو له نۀ دے درکړے او مونږه پۀ هغوئي د شيبو والا [دروند] باران راوليږو او تر هغوئي لاندې مو نهرونه جاري کړل، بيا مو د هغوئي د ګناهونو پۀ وجه هغوئي هلاک کړل او د هغوئي نه پس مو نور قومونه پيدا کړل.

---

1...مرآۃالمناجیح، جلد:2، صفحہ:424۔

اللہ! اللہ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! عبرت، ډېره د عبرت خبره ده، وګورئ چې زمونږ نه مخکښې دې دُنیا ته څنګه څنګه خلق راغلل...!! ❁ فرعون چا ته چې تاج او تخت او حکومت ورکړے شو، د خُدایۍ دعویٰ کوونکي بد بخته کافِران ❁ نمرود ❁ هامان ❁ قارون. هٰغه د څومره طاقت والا ❁ د څنګه عهدو والا ❁ د مال او دولت والا ❁ د عزت او مرتبې والا ❁ د رعب او دبدبې والا. د هغوئي به هم په زړګونو خواهشات وو، ډېر ارمانونه به یې وو، ډېر خوبونه به یې لیدلي وو خو افسوس چې مرګ هغوئي راګیر کړل او فنا یې کړل.

پہلوانوں کو پچھاڑا موت نے | کھیل کتنوں کا بگاڑا موت نے

## د شَدَّاد نصیحت

تابعي بزرګ حضرت وَهَب بن مُنبِّه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: یو ځل د اللہ پاک نبي حضرت اِبراهیم خلیلُ اللہ عَلَيۡهِ السَّلَام په سفر باندې یو غر ته ورسیدو، هلته یو کور وو، د هغې دوه دروازې وې، حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام دننه ورداخِل شو، دننه یو تخت وو، د هغې د پاسه د چا مړے پروت وو. د هغې د پاسه 70 حُلې (ښکلې جامې) اچولے شوې وې، د سر سره یې یوه تخته ایښودے شوې وه، حضرت اِبراهیم عَلَيۡهِ السَّلَام چې هٰغه تختې ولوستله نو په هغې باندې لیکلے شوي وو: زهٔ شَدَّاد بن عاد یم ❁ زهٔ زر [1000] کاله ژوندے ووم ❁ ما زر [1000] لښکرو له شکست ورکړو ❁ هم ما اِرَم ښار جوړ کړو. **خو افسوس** چې کله زما د مرګ وخت راغلو نو زما ټول تدبیرونه ناکامه شو ❁ ما د ټولې دُنیا طبیبان په خپل محل کښې راجمع کړل خو په هغوئي کښې چا هم زما نه مرګ لرې نکړے شو، بس چا چې زهٔ ولیدم، هغهٔ له د دُنیا په دوکه کښې نهٔ دي راتلل پکار. اے **خلقو!** په ځان باندې د دُنیا دروازې تنګې ساتئ! ❁ تاسو د دومره بادشاهۍ مالکان نهٔ یې د کومې چې زهٔ مالک ووم ❁ تاسو به دومره موده ژوندي نهٔ یئ، څومره چې زهٔ ژوندے

ووم ❀ تاسو به دومره جمع نکړے شئ، څومره چې ما جمع کړل، آؤ! آؤ! واورئ...!! دُنیا دوکه بازه ده، قاتله ده، د خپل طلبګار سره لوبې کوي. (1)

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار
تُو اچانک موت کا ہو گا شکار

موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ!
جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ!

گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے
قبر میں تنہا قیامت تک رہے

جب فرشتہ موت کا چھا جائے گا
پھر بچا کوئی نہ تجھ کو پائے گا

موت آئی پہلواں بھی چل دیئے
خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے

دنیا میں رہ جائے گا یہ دبدبہ
زور تیرا خاک میں مل جائے گا (2)

## دُنیا خو یوه دوکه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دُنیا ته دارُ الغُرُور (*The House of Pride*) وئیلے کیږي. دا د یوې دوکې ځائے دے، الله پاک اِرشاد فرمائي:

وَمَا الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ﴿۱۸۵﴾ (پارہ:4، سورۂ ال عمران:185)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او د دُنیا ژوند خو د دوکې سامان دے.

❀ مونږ کنهو چې مونږ طاقتور یو ❀ مونږ کنهو چې مونږ ځوانان یو ❀ مونږ کنهو چې زمونږ سره پیسه ده، مال دے، دولت دے، بینک بیلنس دے ❀ لویه عهده ده ❀ څوک اوږدهٔ اوږدهٔ اُمیدونه ډوب کړي ❀ څوک پهٔ خپله هوښیارۍ او چالاکۍ باندې فخر کوي ❀ څوک پهٔ خپل ښهٔ اواز باندې نازیږي ❀ څوک د خپل عقل پهٔ غرور کښې ورک وي. خو افسوس چې دا دُنیا دوکه ده، پهٔ وخت تیریدو هډو پته نهٔ لګي، اخر حضرت عزرائیل

1...نَوَادِرِ القلیوبي، الحکایة الحادیة و الثلاثون بعد المائة...الخ، صفحه:97و 98 ملتقطاً۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:711۔

عَلَيْهِ السَّلَام تشریف راوړي، اخري سلګۍ راشي، ساه وه انبنلي او هر څهٔ هم داسې پاتې شي، چرته لاړو دولت، چرته لاړه ځواني، چرته لاړو طاقت او چرته لاړه هغه وعده...!!

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار
تُو اچانک موت کا ہو گا شکار

دنیا میں رہ جائے گا یہ دبدبہ
زور تیرا خاک میں مل جائے گا

تیری طاقت تیرا فن عُہدہ ترا
کچھ نہ کام آئے گا سرمایہ ترا[1]

## د بادشاهانو کوپړۍ

حضرت سکندر ذُو القرنین (*Alexander Zulqarnain*) رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د چا ذِکرچې په قرآنِ کریم کښې هم راغلے دے، دا هم ډیر لوئي بادشاه وو، هغوئي د مشرق او د مغرب سفر اوکړو. **پهٔ روایت کښې دي:** یو ځل یو داسې ښار ته لاړو، چرته چې د خلقو سره د دُنیا مال بالکل نهٔ وو، هغوئي قبرونه تیار کړي وو، کله چې به سحر شو نو هغوئي به د قبرونو خوا له تلل، د هغې یاد به یې تازه کولو، هغه به یې صفا کول او د هغې پهٔ خوا کښې به یې نمونځونه کول. دا عجیبه خلق وو، ګیاه، پانړې او سبزیانې وغیره به یې خوړلې او ځان به یې پرې مړولو او د **الله** پاک پهٔ عبادت کښې به مصروفه اوسیدل. حضرت سکندر ذُو القرنین رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د هغوئي د سردار خوا له تشریف یوړلو، د سلام دُعا کولو وغیره نه پس یې ووئیل: زهٔ تاسو پهٔ داسې حالت کښې وینم چې یو قوم مې هم پهٔ داسې حالت کښې نهٔ دے لیدلے. سردار ووئیل: د کوم حالت خبره کوې؟ اوئې فرمائیل: دا چې ستاسو سره د دُنیا مال او دولت هیڅ هم نشته. ❀ **سردار ووئیل: مونږ سرهٔ او سپین زر جمع کول بد ګڼو ځکه چې چا ته دا خیزونه میلاؤیږي، هغوئي پهٔ دې کښې مصروفه کیږي او اخرت ترینه هیریږي.** حضرت ذو القرنین رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پوښتنه اوکړه: تاسو قبرونه ولې تیار کړي دي؟ ❀ **سردار ووئیل: دا د دې د پاره چې کله مونږه قبرونو ته وګورو نو د هغې یاد تازه شي او د دې پهٔ ذریعه**

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:711 ملتقطاً۔

**مونږ د دُنیا د لالچ نه منع شو.** حضرت ذو القرنین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوښتنه اوکړه: تاسو صرف ګیا، پاڼې او سبزیانې وغیره ولې خورئ؟ ❁ سردار ووئیل: **خوراک چې کله حلق ته دننه شي (که هغه هر څنګه ولې نۀ وي) بیا د هغې هیڅ مزه نۀ پاتې کیږي.**

د دې سوالونو او جوابونو نه پس سردار لاس وغزولو او یوه کوپړۍ یې راواخسته او اوئې وئیل: دا یو بادشاه وو. **الله** پاک دۀ ته په دُنیا والؤ باندې بادشاهت عطا کړے وو خو دۀ ظلم او زیاتے اوکړو او سرکشه شو. بیا څۀ کیدل وو: اخر یو وخت راغلو، دۀ هم ساه ورکړه او مړ شو. اوس دا په لاره کښې د پروت کاڼي په شان بالکل بیکاره دے. آؤ! **د دۀ اعمال شمیرلے شوي دي، په کومو باندې چې به دۀ ته په اخرت کښې سزا ورکولے کیږي.** د دومره وئیلو نه پس سردار یوه بله کوپړۍ راواخسته او اوئې وئیل: اے حضرت ذو القرنینه! آیا تاسو ته معلومه ده چې دا څوک دے؟ اوئې فرمائیل: نۀ ده معلومه، ووایه چې دا څوک دے؟ سردار ووئیل: دا هم یو بادشاه وو. دۀ د مخکښیني بادشاه ظلم او زیاتے لیدلے وو، څکه دۀ عاجزي اختیار کړه، د **الله** پاک نه ویریدو او د عدل او انصاف سره یې حکومت اوکړو. اخر دۀ له هم مرګ راغلو، د دۀ هم اعمال وشمیرلے شو، په اخرت کښې به دۀ ته د دۀ د اعمالو بدله ورکولے شي.(1)

| | |
|---|---|
| ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے | مکیں ہو گئے لامکاں کیسے کیسے |
| ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے | زمین کھا گئی نوجوان کیسے کیسے |
| جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے |

## نیو ائیر نائټ *(New Year Night)* او د بد تمیزۍ طوفان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خبره رښتیا ده چې مرګ راتلونکے دے، خامخا به

---

1...مکاشفة القلوب، باب في بيان ذم الدنيا و التحذير منها، صفحه:316و 317 ملتقطاً۔

راځي. د دې نه پۀ يو حالت کښې هم خلاصے نشته. مونږ د دې خبرې نه خبر يو خو بيا ولې د دُنيا پۀ لوبو ټوقو کښې مشغول يو. ❀ کله سوشل ميډيا (***Social media***) ❀ کله پکنګ (***Picnic***) ❀ کله بے ځايه هوټلو ته تګ (***Hotelling***) ❀ کله د دوستانو سره ګپونه لګول ❀ اوس خو د جنورۍ ورومبۍ نيټه راتلونکې ده، نيو ائير نائټ(***New Year Night***)...!! آه! څنګه چې نوے کال شروع کيږي، ځوانان هُغه درز غوبل کوي چې اَلْاَمَانوَالحَفِيظ...!!

پکار خو دا وو چې نوے کال شروع شي نو مونږه د مرګ فِکر اوکړو، د تير شوي کال جائزه واخلو، پۀ نيکو کولو کښې چې کوم کمے پاتې شوے دے، د هغې د پوره کولو د کوشش سوچ اوکړو، کوم ګناهونه چې مو کړي دي، د هغې نه توبه وکړو خو افسوس چې نوے کال هم د ګناهونو او غلطو کارونو نه شروع کولے شي. د 31 دسمبر پۀ شپه چې کله 12 بجې شي نو "د نيو ائير نائټ (***New Year Night***)" پۀ نوم د ډېرې بد تميزۍ نه کار اخستے شي ❀ خاص طور ځوانان خو څۀ ډير د حده تير شي ❀ د سندرو ګډاګانو محفلونه جوړيږي ❀ شرابونه څښلے کيږي ❀ جواري کيږي ❀ د شپې چې کله 12 بجې شي نو کروړونه روپۍ د آتش بازۍ پۀ نوم اوسوزولے شي ايره کړے شي ❀هوائي ډزې کيږي ❀ ځوانان پۀ سړکونو باندې درز غوبل جوړ کړي ❀ ډير ځوانان خو ون ويلنګ (***One Wheeling***) کوي او مړه پکښې هم شي ❀ دغه شان د نيو ائير نائټ (***New Year Night***) پۀ نوم باندې پۀ کيدونکو فنکشنو کښې ډير خلق د زهريله شرابو څښلو يا د هوائي ډزو پۀ وجه يا د آتش بازۍ پۀ وجه هم پۀ وور کښې سوزي او مړۀ کيږي.

وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی
جہاں تاک میں ہر گھڑی ہو اَجل بھی

بس اب اپنے اس جہل سے تُو نکل بھی
یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی

جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

# 36 ځوانان مړۀ شو

د کراچۍ د ریلوے کالونۍ واقعه ده. یو ځل د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك میاشت وه، د ریلوے کالونۍ 40 ځوانانو د دې بابرکتو شپو د قدر هیڅ خیال ونکړو او د ګډاګانو د یو محفل جوړولو منصوبه یې جوړه کړه. پۀ محفل کښې د سندرو او ګډا سره سره د شرابو بندوبست هم وو. څنګه چې ماښام شو، دغه ځوانان راجمع شول او سندرې او ګډاګانې یې شروع کړې، ورسره ورسره د شرابو جامونه هم څښلے کیدل. دغه شان هغوئي پۀ ټوله کالونۍ کښې ډُغه درز غوبل جوړ کړےوو چې د خدائے پناه. پۀ دې کښې یو څو ځوانان د شرابو پۀ نشه کښې سرګردانه شول او پۀ زمکه راپریوتل. نورو ځوانان د هغوئي پۀ راپریوتو پسې پۀ برق برق وخندل او ورسره یې د شرابو یو بل ته د ورکولو او څښلو عمل نور هم تیز کړو.

داسې پۀ جامونو پسې جامونه جوړیدل، ګډاګانې کیدلې او ځوانان د دُنیا نه بے نیازه د دغه محفل پۀ رنګ کښې رنګ کیدل. د شپې پخیدو سره سره ځوانانو شراب څښل او سرګردانه کیدل او پۀ زمکه باندې راغورځیدل، د دې پورې چې پۀ فرش باندې د هغوئي شمیره زیاته شوه. ناڅاپه یو دوست د بل نه پوښتنه اوکړه: پۀ دې ټولو باندې څۀ وشو؟ دا ټول ولې اوده شو؟ بَل چې خپل دوستان پۀ فرش پراتۀ ولیدل نو ډیر حیران او پریشانه شو بیا یې د هغې نه پس خپل دوست ته وکتل نو دواړه پۀ معامله باندې پوهه شول. ځکه یې فوراً پولیس خبر کړل او کله چې پولیس محفل ته راورسیدل نو 27 ځوانان پۀ فرش باندې پۀ لړزیدو لړزیدو مړۀ شوي وو او کوم چې لا مړۀ نۀ وو هغوئي لړزیدل. پولیس فوراً ژوندي پاتې شوي کسان هسپتال ته ورسول. دغه شان پۀ ریلوے کالونۍ کښې د روژې پۀ مبارکه میاشت کښې جوړ کړے شوے د

سندرو او ګډا **محفل د مرګ محفل جوړ شو او 36 ځوانان د زهریله شرابو په وجه مړهٔ شو.**[1]

| | |
|---|---|
| بس اب اپنے اس جہل سے تُو نکل بھی | یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی |
| جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے |

## نیو ائیر نائټ د عبرت شپه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نیو ائیر نائټ د غفلت شپه نهٔ بلکې د عبرت شپه ده. آۀ جي! د ورځې او شپې تلل راتلل، د نمر راختل، بیا پریوتل، د ورځ، هفتې، میاشتې او د کلونو تیریدل **د مرګ قاصِد** دے، په دې کښې هم عبرت دے. **الله** پاک په قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ﴿۶﴾

(پاره:30، سورۂ انشقاق:6)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے انسانه! بے شکه تهٔ د خپل رَبّ طرف ته منډې وهونکے یې بیا د هغه سره ملاقات کوونکے یې.

❁ حضرت فُضَیل رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د یو کَس نه پوښتنه اوکړه: ستا عمر څومره شو؟ اوئې وئیل: 60 کاله. اوئې فرمائیل: د 60 کالو نه تهٔ د **الله** پاک طرف ته سفر کوې، ډیر زر به د هغهٔ بارګاه ته ورسیږې. [2] ❁ صحابئ رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ستا ژوند د ورځو **مجموعه** ده، چې یوه ورځ تیره شوه نو ستا د ژوند یوه حصه پوره شوه. [3] د چا هوښیار قول دے: اِنسان په دې دُنیا باندې څنګه خوشحالیدے شي، چې دلته

---

1...برائیوں کی ماں، صفحہ:1514۔

2...لطائف المعارف، صفحہ:405۔

3...لطائف المعارف، صفحہ:405۔

ورځې میاشتې، میاشتې کلونه او کلونه ژوند کموي. (1)

## د ژوند په کمیدو خوشحالیدونکي عجیبه خلق

علامه اِبنِ رجب حنبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اے د کال په تیریدو باندې خوشحالی کوونکو! تاسو په اصل کښې د خپل ژوند په کمیدو باندې خوشحالیږئ. (2) نور فرمائي: اے هُغه انسانه! د کوم چې په یو پسې بل کال تیریږي خو هغه د غفلت د خوب نه نۀ رابیداریږي، اے هُغه انسانه! د چا چې کال تیر شو خو اوسه پورې د ګناهونو په سمندر کښې ډوب دے، (3) د قیامت په ورځ چې به کله تۀ د الله پاک په حضور کښې حاضر کړے شې نو ستا سره به څۀ بهانه وي؟ د دې غفلت او د ګناهونو نه ډک ژوند به څۀ عُذر پیش کوې...!!

## بهترین انسان څوک...؟

په ترمذي شریف کښې دي، د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې پوښتنه اوشوه: اَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ یعني بهترین اِنسان څوک دے؟ اوئې فرمائیل: مَنْ طَالَ عُمُرُهٗ وَحَسُنَ عَمَلُهٗ د چا عمر چې زیات او اعمال ښۀ وي. بیا پوښتنه اوشوه: اَيُّ النَّاسِ شَرٌّ؟ د ټولو نه خراب انسان څوک دے؟ اوئې فرمائیل: مَنْ طَالَ عُمُرُهٗ وَسَاءَ عَمَلُهٗ د چا عمر چې ډیر او اعمال خراب وي. (4)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې مونږ لږ غور اوکړو، څومره داسې خلق دي کوم چې تیر کال د دُنیا نه رخصت شول، یقیناً چې مونږ ته مهلت میلاؤ شوے دے،

---

1... لطائف المعارف، صفحه:406۔

2... لطائف المعارف، صفحه:405۔

3... لطائف المعارف، صفحه:407۔

4... ترمذی، کتاب الزہد، باب: ما جاء في طول العمر للمؤمن، صفحه:557، حدیث:2330۔

زمونږ ساه ګانې لا اوس هم روانې دي، يقيناً چې نوے کال نصيب کيدل د خوشحالۍ خبره نۀ ده، کتل خو دې ته دي چې زمونږه اعمال څنګه دي؟ ښۀ هغه دے د چا چې عمر ډير وي او اعمال ښۀ وي او که نوې ورځ خو نصيب شي، نوې هفته، نوې مياشت، نوے کال ليدل خو نصيب شي خو اعمال هُم هغسې خراب پاتې وي، مخکښې پۀ ګناهونو کښې ډوب وو، پۀ نوي کال نصيب کيدو هم پۀ ګناهونو کښې اخته اوسي، مخکښې يې پۀ غفلت کښې ورځې او شپې تيرولې، پۀ نوي کال شروع کيدو باندې پرې هم غفلت راخور دے نو داسې ګس ښۀ نۀ بلکې ډير خراب دے.

## د صِدِّيقينو يو ښکلے صفت

منقول دي چې د يو نيک بخته بخت رابيدار شو، د هغۀ پۀ خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، عرض يې اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما ته نصيحت اوکړئ! خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د چا چې دوه ورځې يو شان وي (يعنې پرون چې څنګه وه، نن هم هُغه شان تيره شي، پرون يې 5 نيکۍ کړې وې، نن يې هم 5 نيکۍ اوکړې، نيکۍ يې زياتې نۀ شوې، يا يې تيره ورځ پۀ ګناه کښې تيره شوې وه، نن هم پۀ ګناهونو کښې تيره شوه، توبه يې نۀ کړه، داسې ګس) پۀ دوکه کښې دے او د چا چې نن د پرون نه زيات خراب تير شو، هغه ملعون دے. [(1)]

علمائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: صِدِّيقين (يعنې د ډيرې اوچتې مرتبې والا اوليائے کرام) د دې خبرې نه حيا کوي چې د هغوئي ننۍ ورځ د پرونۍ پۀ شان تيره شي (يعنې هغوئي هره ورځ نيکۍ څۀ نا څۀ زياتوي). [(2)]

---

1...لطائف المعارف، صفحه:400۔

2...لطائف المعارف، صفحه:400۔

کاش چې زمونږ نصیحت نصیب شي، مونږ هم عبرت حاصل کړو، د اخرت فِکر اختیار کړو، زمونږ د ژوند یو بل کال ختم شوے دے، په دې کال کښې به مونږ ځان بدلوو، په خپلو اخلاقو، کردار، عادت کښې به بدلون راولو، دا کال به په ښهٔ انداز کښې، د ګناهونو نه په بچ کیدو، په نیکو کښې د تیرولو کوشش کوو.

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کلونه بدلیږي، کاش چې دا ځل صِرف کال بدل نشي، مونږه هم بدل شو، کاش چې مونږ عبرت حاصِل کړو، کال بدلیږي، مونږ هم خپل عادتونه بدل کړو، که د ګناهونو عادت مو شته نو چې توبه وکړو ❀ که د نـمونځونو نهٔ کولو عادت دے نو پینځه واړه نـمونځونه په پابندۍ سره د جَمعې سره ادا کوونکي جوړ شو ❀ د تهجدو عادت خپل کړو ❀ د اشراق، ځاښت او اَوّابین د نفلونو ادا کولو عادت جوړ کړو ❀ ډیر درودِ پاک لولو ❀ په مدني قافلو کښې سفر کول معمول جوړ کړو ❀ د خپلو اعمالو د جائزې اخستو او د نیک اَعمَال رسالې ډکولو عادت جوړ کړو ❀ د نیکۍ دعوت ورکوونکي جوړ شو ❀ د سُنَّتو نه ډک لباس اغوستل اِختیار کړو ❀ د سُنَّتو مطابق ویښتهٔ پریږدو ❀ ګیره مبارکه پریږدو ❀ که چرې عمامه [یعني پټکے] نهٔ په سر کوؤ نو د پټکي تاج په سر کړو ❀ که د غصې کولو عادت مو دے نو حِلم اختیار کړو ❀ د حسد، تکبر، ځان خوښۍ وغیره باطني مرضونو نه زړهٔ پاک کړو ❀ ښهٔ عادتونه اختیار کړو، ښه انداز اختیار کړو او جنَّت ته په بوتلونکو کارونو کښې مصروف شو. کاش چې د کال بدلیدو سره مونږ هم بدل شو.

## په نیو ائیر نائټ (New Year Night) کښې د کولو کارونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نوے عیسوي کال شروع کیږي ❀ په دې موقع باندې د خپلو اعمالو جاج اخستل پکار دي مثلاً چې مونږه غور اوکړو چې تیر کال چې کله نوے کال شروع شوے وو، د هغه وخت نه تر اوسه پورې مونږ په څومره نیکو کولو کښې کامیاب شوي یو؟ آه! په عمل نامه کښې مو څومره ګناهونه زیات کړي دي...! ❀ د نوي کال د شروع کیدو په

موقع باندې مونږه د خپلو ګناهونو نه توبه کړو ❀ نوے کال شروع کيږي، د نوي کال شروع دې په نيکو سره اوکړے شي ❀ د ذِکرُ الله سره دې اوکړے شي ❀ د نعت خوانئ سره دې اوکړے شي ❀ د سجدو سره دې اوکړے شي ❀دا نوے کال ميلاؤيدل، د ژوند دومره ساعتونه نصيب کيدل دا خو هم د **الله** پاک نعمت دے، د دې شکر دې ادا کړے شي ❀د نوي کال دې نوي هدفونه وټاکلے شي، ښۀ ښۀ نيتونه دې اوکړے شي مثلاً ❀ په دې نوي راتلونکي کال کښې به دومره تلاوت کووم ❀ دومره درودِ پاک به لولم ❀ نور به ټول نـمونځونه کووم ❀که چرې قضا نـمونځونه وي نو د هغې دې زر تر زره د ادا کولو نيت اوکړے شي ❀رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشريف راوړونکے دے، د اعتکاف نيت دې اوکړے شي ❀هره مياشت دې په مدني قافِله کښې د سفر کولو نيت اوکړے شي ❀ د نيک اَعمال رسالې دې هره ورځ په پابندئ سره د ډَکَولو نيت اوکړے شي ❀ په هفته واره د سُنّتو نه په ډَکه اجتماع او هفته واره مدني مذاکره کښې دې په پابندئ سره د شرکت کولو نيت اوکړے شي.

## نيو ائير نائټ او مدني مذاکره

نيو ائير نائټ (*New Year Night*) په نيکو کښې د تيرولو يوه بهترينه طريقه دا هم ده چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې شپه عام طور په مدني چينل نيغ په نيغه (*Live*) مدني مذاکره کوي، په دې مَدَني مذاکره کښې د حاضريدو نيت اوکړئ. اے کاش چې زمونږ د غفلت نه رابيداريدل نصيب شي، **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د نيک جوړيدو، د نيکو کولو او د وخت د قدر د پوهې توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تخم کرلو مياشت

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَجَب شريف د مبارکې مياشت برکتونه جاري

دي، دا د نيکو مياشت ده. په دې کښې ډېر عبادت وکړئ! ❁د **نفل روژو** اهتمام وکړئ، د **حديثِ پاک** مطابق د **رَجَب** د اولنئ ورځې روژه د 3 **کالو**، د دويمې ورځې روژه د 2 **کالو** او د درېمې ورځې روژه د **يو کال کفاره** ده، بيا د هرې ورځې روژه د **يوې مياشتې کفاره** ده.(1)

نو ځکه تادي وکړئ! د **رمضان** انتظار مهٔ کوئ! د نن او همدا اوس نه نېکۍ کول شروع کړئ! **صُوفيائے کرام** فرمائي: **رَجَب د تخم کرلو مياشت ده، شعبان د اوبه ورکولو او رَمضان شريف د فصل رېبلو مياشت ده.**

يعني په **رَجَب** کښې په نفلونو کښې ډېر کوشش کوئ! په **شعبان** کښې په خپلو ګناهونو اوښکې تويوئ او په **رَمضان** کښې **الله** پاک راضي کړئ او دا پټے په خير سره ورېبئ!(2)

| | |
|---|---|
| میں رحمت، مغفرت،دوزخ سے آزادی کاسائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولا |
| بَراءَت دے عذابِ قبر سے،نارِ جہنّم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولا |
| عبادت میں،ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دِل | رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرمادے کرم مولا(3) |

## د خواجه صاحب د عُرس بلنه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د **رجب شريف** په 6 تاريخ د برصغير د لوئي علمي او روحاني هستئ، **خواجه غريب نواز** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عُرس شريف ورځ وي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **537 هجري** کښې پېدا شو. ❁د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم مبارک **حَسَن** دے، او غريب نواز، سلطانُ الهند، وارثُ النّبي او عطائے رسول د هغوئي مشهورو القاب دي.(4)

---

1...جامع صغير، صفحه:312311، حديث:5051۔

2...مراة المناجيح، جلد:2، صفحه:330 بتغير۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:98۔

4...فيضانِ خواجه غريب نواز، صفحه:3 بتغير قليل۔

۞خواجه صاحب رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پلار او مور دواړو طرفو نه **سید زاده** دے.[1] ۞د ظاهري او باطني علومو حاصلولو نه پس یې [د ډیرې مودې پورې] د هند په **اجمیر** علاقه کښې د علم او معرفت فیضان تقسیمولو او د **96** کالو په عمر کښې، د **6 رجب 627 هجري**، د **ګل** په ورځ د **سحر** په وخت وفات شولو. ۞د وفات په وخت یې په **نوراني تندي** لیکل شوي وو: هَٰذَاحَبِيۡبُ اللهِ مَاتَ فِيۡ حُبِّ اللهِ یعني: دا د **الله** محبوب بنده دے او د **الله** په مینه کښې وفات شو.[2]

د خواجه صاحب ټول عاشقان د عُرس مبارک اهتمام وکړئ. اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د **دعوتِ اسلامي** زیرِ اهتمام په مختلفو ځایونو کښې د **خواجه صاحب** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د **عُرس** اهتمام کیږي، څوک چې کولے شي په دې اجتماعاتو کښې دې شرکت وکړي. **الله** پاک دې مونږ ته د اولیاؤ د فیضان نه برخه نصیب کړي. آمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: دَرس

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلۡحَمۡدُ لِله! په اوسني د فتنو نه په دې ډک وخت کښې د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د نیکۍ په دعوت ورکولو او د اُمَّت د نیک نمونځ ګزاره جوړولو په کوشش کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ، د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د دنیا او اخرت بے شمیره خیرونه درنصیب شي.

د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار **دَرس** هم دے.

په جومات، چوک، مارکیټ خاص طور په کور کښې چرته چې هم موقع میلاؤیږي نو د

---

1...مرآۃالاسرار، صفحه:592 خلاصةً۔

2...ہند کے راجہ، صفحه:78 بتغیر قلیل۔

درس ورکولو کوشش کوئ! که دَرس ورکولے نۀ شی نو پۀ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!
❁ د عِلم دِین د زده کولو موقع به مو نصیب کیږي ❁ پۀ جومات درس کښې د شاملیدو پۀ شکل کښې به مونږ ھُغه همره پۀ جوما ت کښې د کیناستو ثواب کیږي ❁ پۀ نیک صحبت کښې به پاتې کیدل درنصیب کیږي ❁ که د کور نه پۀ درس کښې د شرکت کولو پۀ نیت سره ځې نو د عِلمِ دِین پۀ لاره کښې د تللو ثواب به درته میلاویږي ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مخلوقات تر دې پورې چې پۀ دریاب کښې مهیان [کبان] به هم [ستاسو د پاره] دعاګانې کوي. راځئ چې د ترغیب د پاره یو مَدَنې سپرلے واورو:

## د هوټل ښکلا جوړیدونکے ځلمے

د حیدر آباد، سندھ اوسیدونکے یو اسلامي ورور خپله واقعه څۀ داسې بیانوي: زۀ پۀ ګناهونو کښې داسې اخته ووم چې زما سره د خپل ژوند د قیمتي وختونو د بربادیدو هېڅ فِکر نۀ وو، د معمول مطابق ھغه ورځ هم زۀ پۀ هوټل کښې موجود ووم او پۀ ټي وي کښې پۀ چلیدونکو فلمي نظارو کښې ورک ووم چې پۀ دې کښې د سُنَّتو مطابق جامې اغوستې یو اسلامي ورور زما خوا له راغلو او پۀ ګرم جوشۍ سره یې زما سره د لاس میلاوهلو نه پس ما ته ووئیل: ورور جانه بهر چوک درس کیږي. تاسو یو څو منټه راکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیرې نیکۍ به حاصلې کړئ. زۀ د هغوئي د ښو اخلاقو او عاجزۍ نه ډیر متاثره شوم او سمدستي ورسره روان شوم. د هوټل نه بهر یو اسلامي ورور د **فیضانِ سنّت** نه درس ورکولو، د نورو اسلامي ورونړو پۀ شان زۀ هم پۀ درس اوریدو کښې مصروف شوم، درس چې مې واوریدو نو زما پۀ زړۀ یې ډیر زیات اثر وکړو، ما د زړۀ د اخلاصه توبه کړه او د اسلامي ورونړو صحبت مې اختیار کړو، د دې پۀ برکت به ماته کله د سُنتو پۀ اجتماع کښې د شرکت سعادت، نو کله به راته پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره سفر نصیب کیدلو. پۀ ورو ورو زۀ دیني ماحول ته نزدې کیدم، اخر د

هوټلو ښکلا جوړیدونکے ځلمے د درس په برکت نن اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقان رسول سره په جومات کښې شپې تیرولو والا جوړ شو. (1)

عطائے حبیبِ خدا مَدنی ماحول
ہے فَیضانِ غوث و رضا مَدنی ماحول
سَنور جائے گی آخرت ان شاء اللہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدنی ماحول (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نیک اعمال *(Naik Amal)* موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نیک جوړیدو او په نیک اعمالو کښې د زیاتوالي کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: **نیک اعمال (*Naik Amal*)** دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، په دې ایپلي کیشن کښې د اِسلامي ورونړو، اِسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیلې بیلې رسالې موجودې دي ❀ دا په 6 مختلفو ژبو ❀ انګریزی ❀ اُردو ❀ هندی ❀ بنګالی ❀ ګجراتی او ❀ سندھی کښې استعمالیدے شي ❀ په دې کښې په مختلفو نیک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❀ د هر سوال نه لاندې د هرې میاشتې د ورځو مطابق خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې په برکت به مو د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړیږي، د زړۀ صفا والے به مو نصیب کیږي او کردار به مو صفا سوتره، ښکلے کیږي.

---

1...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا، صفحہ:12 ملخصًا۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:646 ملتقطاً۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** يو څو ضروري اعلانونه واورئ، د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چینل باندې د ماسخوتن د نـمونځ نه پس(تقریباً 8 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د حضرت سُفیان ثَوري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **87 اِرشادات** رسالې اعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (***Share***) کړي! ❁ حضرت خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه: پهٔ ټوله دُنیا کښې چې د چا دُنیا ته د راتللو خبرې کیږي، خلق د حضرت خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره عقیدت لري او د هغوئي مزار ته حاضري کوي، د حضرت خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مقام او مرتبې او د هغوئي د سیرت مبارک د روښانه اړخونو نه د ځان خبرولو د پاره د مکـتبة الـمدینه دوه رسالې ضرور ولولئ (1): *کراماتِ خواجه* (2): *فیضانِ خواجه غریب نواز*.

❁ مکـتبة الـمدینه ورکوي، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ لیکلے شوي ډېر ښکلې کتاب *نماز کے احکام*. باندې سپیشل ډسکاؤنټ (***Special Discount***). دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه د 31 دسمبر کال 2025 پورې پهٔ سپیشل ډسکاؤنټ

باندې د 690 روپو په ځائے په 566 روپې په بیعه حاصلیدے شي.

په خپل کور کښې د حاصلولو د پاره د مکـتـبة الـمدینه په کال سینټر نمبر باندې رابطه اوکړئ:

03131139278

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي.(1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اودهٔ کیدو او راپاڅیدو سُنت او آداب

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې د مازیګر نه پس اودهٔ شي او د هغهٔ عقل لاړشي نو هغه دې خپل ځان ملامته کوي.(2)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اودهٔ کیدو نه مخکښې بستره ښه وڅنډئ چې ضرر رسوونکے څيز وغیره وي چې لرې شي ❀ د اودهٔ کیدو نه مخکښې دا دعا ولولئ اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَ اَحْیَا. یعني یا اللّٰه پاکه! زهٔ ستا د نوم سره مرم او ژوندے کیږم

---

1...تاریخ ابن عساکر، رقم:829، انس بن مالک...الخ، جلد:9، صفحه:343۔

2...مسند ابی یعلیٰ، جلد:4، صفحه:121، حدیث:4915۔

(یعنې اوده کیږم او راپاڅم) ❁ د ورځې په وړومبنۍ حصه کښې اوده کیدل یا د ماښام او ماسخُوتن په مینځ کښې اوده کیدل مکروه دي. ❁ په ماسپښین کښې قیلوله (یعنې لږ وخت سملاستل) مستحب دي ❁ په اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې په اوداسه کښې اوده شي د لږ وخت د پاره په ښي اړخ او ښۍ لاس د مخ لاندې کیږدي او مخ په قبله اوده شي بیا د هغې نه پس په ګڅ (یعنې کیڼ) اړخ ❁ د اوده کیدو په وخت قبر کښې ملاسته یاده کړئ چې هلته به یواځې سملاستل وي، د خپلو عملونو نه علاوه بل هیڅ څیز راسره نه وي ❁ د سملاستو په وخت د **الله** پاک په یاد کښې مشغول اوسیږئ، تَهلیل و تسبیح اوتحمید لولئ (یعنې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، سُبْحَانَ الله، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ورد کوئ) تر دې چې اوده شئ، چې په کوم حالت کښې انسان اوده شي په هغې راپاڅیږي او په کوم حالت چې مړ کیږي د قیامت په ورځ به په هغه حالت کښې راپاڅیږي ❁ د راپاڅیدو نه پس دا دُعا لولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ یعنې ټول تعریفونه **الله** پاک لره دي چا چې مونږ د وژلو نه پس راژوندي کړو او هم د هغهٔ طرف ته واپس ګرځیدل دي ❁ کله چې د هلک او جینۍ عمر لس کاله شي نو دوئي بیل بیل سملول پکار دي بلکې د دومره عمر هلک دې د دومره عمر هلکانو (یعنې د خپلو همزولو هلکانو) یا د دوئي نه د غټو سړو سره هم نه سملې ❁ هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے ❁ کله چې د خوب نه رابیدار شۍ نو مسواک کوئ ❁ د شپې چې کله راپاڅئ نو تهجد ادا کړئ چې دا ډیره د سعادت خبره ده. (1)

میں سو جاؤں یا مصطفٰی کہتے کہتے | کھلے آنکھ صَلِّ علیٰ کہتے کہتے

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د

---

1... 550 سنتیں اور آداب، صفحه:38-40۔

شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں قافلے میں چلو
عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې برسيره كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په

---

1 . . . القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللهِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ وسلم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك اوچتې مرتبې والا دے! چې كله هغه لاړو نو حضور نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغهٔ د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغهٔ چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

---

1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

2 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵